NHS SCOTLAND

# NHS PHARMACY FIRST SCOTLAND

## مشوره | درملنه | رابلنه



ستاسو د علایمو په اړه مشوره



درملنه که چېرې سپارښتنه يې شوې وي



نورو خدمتونو ته رابلنه

## د ناروغانو لپاره معلومات

Healthier Scotland
Scottish Government

## د NHS Pharmacy FirstScotland څه شی دی؟

- **NHS Pharmacy First Scotland** د NHS خدمت دی چې ستاسو د ځايي تولني درملتون لخوا چمتو شوي (يو درملتون د تړون سره د NHS نسخې او خدمات چمتو کولو لپاره).
- که تاسو کوچنی ناروغي لرئ، درملتون لومړی ځای دی چې تاسو باېد د مشورې لپاره ورته لاړ شئ.
- تاسو عموماً ليدژمنې ته اړتيا نلرئ او تاسو کولای شئ هر درملتون ته لاړ شئ.
- ستاسو درمل جوړونکي کولای شي تاسو ته د يوې کوچنی ناروغی لپاره مشوره او درمل درکړي، که دوي فکر کوي چې تاسو ورته اړتيا لری.

## خدمت د چا لپاره دې؟

تاسو کولای شئ**NHS Pharmacy First Scotland** وکاروئ که تاسو په سکاټلېنډ کې د GP خدمت سره راجستر ياست يا تاسو په سکاټلېنډ کې اوسيږئ. که تاسو نورو جزئياتو ته اړتيا لرئ نو د درملتون ټيم سره خبرې وکړئ.

## خدمت څنګه کار کوي؟

- درمل جوړونکي او د دوي ټیمونه د درملو ماهرین دي او کولای شي کوچني روغتیایي اندیښنو سره مرسته وکړي.
- یو درمل جوړونکی کولای شي تاسو ته د کوچنیو ناروغیو لپاره مشوره او درملنه درکړي (که تاسو دې ته اړتیا لرئ) لکه لاندې.

| | |
|---|---|
| ځوانکی | د سر سپږي |
| الرجي | بواسیر (موېښی) |
| د ګوتو تر مینځ فنګسي انتان | د واښو تبه |
| د ملا درد | امپیتیګو یا ساري د پوټکي بکتریا |
| بنده یا بهېدونکي پوزه | بدهضمي |
| په خوله کې یا خولې ته نیږدې متورم داني | د خولې زخمونه |
| قبض | درد |
| ټوخي | حیض درد |
| د مثانې التهاب (په ښځو کې) | د ستوني خوږ |
| اسهال | کخی |
| د غوږ درد | د خولې او ستوني آنتان |
| اکزیما | زخې |
| سر درد | دردناکې او ساری د پښو زخې |

- درمل جوړونکي، لکه GPs، کولای شي یوازې په NHS کې خاص درمل او محصولات چمتو کړي. دا ټول ستاسو د حالت درملنه کولو لپاره اغیزناکه ثابت شوي. که تاسو یو ځانګړی درمل یا محصول غواړئ، تاسو اړتیا لرئ هغه پیرود کړئ. درمل جوړونکی به تاسو ته پدې اړه مشوره درکړي.
- که درمل جوړونکی فکر کوي چې دا ستاسو لپاره غوره ده چې خپل GP ته مراجعه وکړئ، دوي ښايي تاسو په مستقیم ډول ولیږي یا تاسو ته ووایي چې یوه لیدژمنه وټاکئ.

## زه خدمت څنګه وکاروم؟

- **NHS Pharmacy First Scotland** په سکاټلینډ کې د ټولو درملتونونو څخه شتون لري چې د NHS نسخې توزیع کوي.
- تاسو کولای شئ انتخاب وکړئ چې کوم درملتون وکاروئ.
- په زیاتره وختونو کې، تاسو اړتیا نلرئ چې یوه لیدژمنه وټاکئ.
- کله چې تاسو درملتون ته لاړ شئ، درمل جوړونکی (یا د دوي یو ټیم) به له تاسو څخه ځینې معلومات وغواړي، پشمول ستاسو نوم، د زیږیدنې نیټه او پوستې کوډ.
- درمل جوړونکی به:
  - o له تاسو څخه ستاسو د علایم په اړه پوښتنه وکړي،
  - o تاسو ته به ستاسو د حالت په اړه مشوره درکړي،
  - o درمل به چمتو کړي (که تاسو ورته اړتیا لرئ)، او
  - o تاسو به بل روغتیایی مسلکي ته ولیږي (د مثال په توګه ستاسو GP) که دوي فکر وکړي چې دا اړین دی.
- دوي به د ناروغانو د درملو ریکارډ (PMR) جوړ کړي ترڅو د کومې مشورې او درملنې یادښت جوړکړي کوم چې دوي تاسو ته درکوي.
- تاسو کولای شئ د درملتون د مشورې ساحې یا خونې کارولو غوښتنه وکړئ که تاسو غواړئ د درمل جوړونکي سره په پټې خبرې وکړئ.

## ایا زه کولای شم چې نورو درملتونونو ته هم لاړ شم؟

- هو، تاسو کولای شئ هر درملتون ته لاړ شئ ترڅو درمل پیرود کړئ، نسخې راټولې کړئ یا د**NHS Pharmacy First Scotland** خدمت وکاروئ. تاسو اړتیا نلرئ چې تل ورته وکاروئ.
- په هرصورت، که تاسو تل ورته درملتون کاروئ، درمل جوړونکی کولای شي ستاسو د درملنې ریکارډ جوړ کړي، کوم چې ښایي تاسو سره ستاسو د حالت په اغیزناکه توګه اداره کولو کې مرسته وکړي. (دا ریکارډ له بل چا سره نه شریکیږي.)

## څه به وشي که زه د هغه خدمت څخه ناخوښه یم چې ما د درملتون څخه ترلاسه کړی دی؟

- لومړی، د درمل جوړونکي سره خبرې وکړئ ترڅو دوی هڅه وکړي چې خبره سمدلاسه حل کړي.
- که تاسو نشئ کولای دا وکړئ، یا که تاسو دمخه د خپل درمل جوړونکی سره خبرې کړې وي او لاهم ناخوښه یاست، تاسو کولای شئ د خپل محلي NHS روغتیا بورډ کې د نظر شریکولو او شکایتونو ټیم سره اړیکه ونیسئ. د اړیکې جزئیات په NHS Inform ویب پاڼه کې ورکړل شوي [www.nhsinform.scot](http://www.nhsinform.scot).

## څنګه کولای شئ نور معلوم کړئ

- د دې خبرپاڼې د هر څه په اړه د نورو معلوماتو لپاره، اړیکه ونیسئ:
- د خپل ځایي درملتون سره،
- د خپل ډاکټر یا د NHS کارمندانو غړي سره چې ستاسو په پاملرنه کې ښکیل دي،
- د NHS معلوماتو مرستندویه شمېرې سره په ۸۸ ٤٤ ۲۲ ۰۸۰۰ اړیکه ونیسئ (د لینډ لاین څخه تلیفونونه وړیا دي)، د NHS Inform ویب پاڼه په www.nhsinform.scot;
- د ناروغانو د مشورې او ملاتړ خدمت (PASS) سره په ۲۱۲۷ ۹۱۷ ۰۸۰۰ یا د خپل محلي اتباعو مشورې دفتر سره (خپل تر ټولو نږدې دفتر په ویب پاڼه په www.cas.org.uk یا په حپل محلي تلیفون کتاب کې یې ومومئ).

دا معلومات د سکاټلینډ د حکومت په ویب پاڼه (www.gov.scot) او د NHS Inform په ویب پاڼه (www.nhsinform.scot) کې شتون لري.

Crystal Mark 23289
Clarity approved by Plain English Campaign

Scottish Government
Riaghaltas na h-Alba
gov.scot

Crown copyright 2020 ©

OGL

دا خپرونه د خلاص حکومت جواز v3.0 شرایطو سره جواز لري پرته له دې چې بل ډول بیان شوي وي. د دې جواز د کتلو لپاره، **nationalarchives.gov.uk/doc/open-government-licence/version/3**
وګورئ یا د معلوماتو پالیسی ټیم ته ولیکئ، The National Archives, Kew, London TW9 4DU،
یا بریښنالیک ولستوئ: **psi@nationalarchives.gsi.gov.uk**.

چیرته چې موږ د دریمي ډلې د کاپي حق معلومات په ګوته کړې وي تاسو به اړتیا ولرئ د اړونده کاپي حق لرونکو څخه اجازه ترلاسه کړئ.

دا خپرونه په **www.gov.scot** کې شتون لري

د دې خپروني په اړه هر ډول پوښتني باید موږ ته واستول شي په
The Scottish Government
St Andrew's House
Edinburgh
EH1 3DG

ISBN: 978-1-83960-444-7
په ۷ صفحه د یو کوچني تعدیل سره بیاکتل شوی او بیا چاپ شوی.

د سکاټلینډ حکومت لخوا خپور شوی، اپریل ۲۰۲۰

د APS ډلې سکاټلینډ لخوا د سکاټلینډ حکومت لپاره تولید شوی، 21 Tennant Street, Edinburgh EH6 5NA
PPDAS675394 (04/20)